# دسعودی عربستان اساسی قانون

پښتو ژباړه:

پوهاند نصراله ستانکزی

# دسعودی عربستان اساسی قانون

## د۱۹۹۲ کال د مارچ (۱۴۱۳) هـ. ق) دملک فهد د سلطنتی فرمان سره سم د ۱۹۹۳ کال اکتوبر (۱۴۱۴) هـ. ق) له لاری تصویب شو.

### لومړی فصل
### کلی اصول

**لومړی ماده:**

دسعودی عربستان پاچائی اسلامی، عربی او خپلواک حکومت دی چی دهغه مذهب اسلام، اساسی قانون ئی د خدای (ج) کتاب دپیغمبر (ص) (صلوات الله وسلام الله علیه) ژبه ئی عربی او دهغه پلازمینه ریاض دی.

**دوهمه ماده:**

دفطر اختر او اضحی اختر دهیواد عمومی تعطیلات دی او دهغه تقویم هجری تقویم دی.

**دریمه ماده:**

دهیواد بیرغ په لاندی ډول دی:

الف – دهغه رنګ زرغون دی.

ب- عرض ئی داوږدوالی وده پر لایحه ده.

ج- د (( لا اله الاالله محمدا رسول الله )) عبارت د بیرق په منځ انځورشوی او یوه لوڅه توره ترلاندی موقعیت لری.

په هغه پوری اړوند مقررات د قانون لخوا ټاکل کیږی.

**څلورمه ماده:**

دهیواد نهاد ( آرام) دوه متقاطع توری دی چی یوه د حزماونه د هغه په پورتنی فضاکی د دو تورو او د هغه په منځ واقع کیږی. د هیوادنی سرود او نشانونه د قانون له لاری مشخصیږی.

## دوهم فصل
## سلطنت

**پنځمه ماده:**

الف- حکومتي نظام د سعودي عربستان په پاچا ئی کی سلطنتی دی.

ب- حکومت د موسس پا چا عبدالعزیز عبدالرحمن الفیصل السعود زامنو او د زامنو زامنو ته منتقلیږی، د هغوی له منځه شخه ترټولو درست کارکوونکی د قرآنکریم د اصولو او دګران پیغمبر (ص) د سنت سره سم، بیعت صورت مومی.

ج- پاچا خپل مسلم ځای ناستی ټاکی او سلطنتی حکم سره سم خپل ځان له اړوندو دندو شخه مبرا کوی.

د- مسلم ځای ناستی د همدی عنوان لپاره باید خپل وخت د ورکړشویو دندو د تر سرکولو لپاره او هر هغه ماموریت چی ده ته د پاچا لخوا ورکول کیږی، اختصاص کړی.

ه- د مسلم وارث د پاچا د مرګ له نیتی تر هغه وخته چی بیعت صورت مومی، د پاچا اختیارات په غاړه اخلی.

**شپږمه ماده:**

اتباع باید د قرآن کریم او د پیغمبر(ص) د سنت سره سم پاچا ته د اطاعت اوفرمان وړلو د بیعت او وفاداری لاس د آرامی او سختی، خوښی اوناخوښی ورکړی.

**اوومه ماده:**

په سعودی عربستان کی دحکومت قدرت له قرآنکریم او دپیغمبر(ص) سنت شخه سر چینه اخیستی ده.

**اتمه ماده:**

**د حکومت اصول:**

په سعودی عربستان کی حکومت د عدالت، مشورت و تساوی پر بنسټ، د اسلامی شریعت سره سم دی.

## دریم فصل
## دسعودی د کورنی ځانګړتیاوی

**نهمه ماده:**

کورنی، د سعودی دټولنی بنسټیز واحددی او دهغه غړی د اسلامی ایمان او عبودیت او نسبت خدای، دخدای رسول (ص) او چارو آمر پربنسټ، درناوی نسبت قانون او پرهغه باندی عمل نسبت او هیواد او دهغه له ویاړ ډک تاریخ ته مینه او سرلوړی ئی، هسی چی اسلامی مذهب ټاکلی روزنه مومی.

**لسمه ماده:**

دولت د کورنی اړیکو د غښلتیا هیله من دی، د اسلامی او عربی ارزښتونو ساتنه د کورنی د غړیو ساتنه او دهغوی د سرچینو او قابلیتونو لپاره د مناسبو شرایطو برابرولو دی.

**یوولسمه ماده:**

دسعودی ټولنه له الهی فرامینو پربنسټ د نیکو اعمالو او پرهیزګاری اړوند متقابلو همکاریو او متقابلی مرستی او یووالی باندی ولاړه ده.

**دولسمه ماده:**

دملی وحدت پیاوړتیا یوه دنده ده او دولت د هرهغه چاری چی د تفرقی، فتنه اچوونی او تجزیی باعث شی، مخنیوی کوی.

**دیارلسمه ماده:**

له ښوونی او روزنی موخه، په ځوان نسل کی د اسلامی اعتقاد القأ، خلکوته د پوهنی اومهارتونو برابر ولو او دهغوی چمتوکول چی د ټولنی په جوړښت کی ګټور غړی شی، هغه غړی چی خپل هیواد خوښونکی وی او دهغه پر تاریخ وویاړی.

## خلرم فصل
## اقتصادی اصول

**خوارلسمه ماده:**

ټولی د خدای دلورینی پانگی که هغه ترځمکی لاندی او یا دځمکی پرمخ او په سرحدی اوبوکی او یا په ځمکنی یا هوائی قلمروکی چی د دولت تر کنترول لاندی، د قانون د تعریف سره سم د دولت د شتمنی برخه دی.

د هیواد او امنیت او اقتصاد په گټه د دغه پانگی د گټی اخیستنی ..........او ودی لاری چاری قانون ټاکی.

**پنځلسمه ماده:**

هیڅ امتیاز نه ورکول کیږی او هیڅ ملی منبع ترگټی اخیستنی لاندی نه راځی، مگر دقانون سره سم.

**شپاړلسمه ماده:**

عمومی شتمنی واجب الاحترام دی او دولت دنده لری له هغی ساتنه وکړی او اتباع او مقیم افراد باید له هغی ساتنه وکړی.

**اولسمه ماده:**

مالکیت، سرمایه او کار، دپاچائی د اقتصادی او ټولنیز موجودیت اصلی عوامل دی. دغه عوامل د فردی حقوقو جزء گڼل کیږی چی داسلامی شریعت پر بنسټ دی.

**اتلسمه ماده:**

دولت د خصوصی مالکیت د آزادی او حرمت ملاتړ کوی. هیڅوک له خپل مالکیت څخه نه محرومیږی، مگر دعمومی گټو لپاره چی پدی صورت کی مناسب تاوان ټاکل کیږی.

**نولسمه ماده:**

د اموال عمومی مصادره ممنوع ده او دخصوصی مصادری مجازات یوازی د قانونی حکم سره وضع کیږی.

**شلمه ماده:**

مالیات او عوارض د عدالت پر بنسټ او داړتیا سره سم وضع کیږی، دعوارضو عملی کول، اصلاح او لغو او دهغوی معافیت یوازی د قانون له لاری مجاز دی.

**یوو یشتمه ماده:**

صدقه او زکات ترلاسه کیږی ذیحقو کسانو ته ورکول کیږی.

**دوویشتمه ماده:**

اقتصادی او ټولنیز وده باید د یوه عادلانه او علمی پروگرام سره سم حاصل شی.

## پنځم فصل
## حقوق او وظایف

**درویشتمه ماده:**

اسلام- دولت د اسلام حافظ دی او داسلام شریعت اجرأ کوی.

دولت، خلک امربالمعروف ونهی له منکر څخه کوی او خپله دنده د الهی فرمان سره سم ترسره کوی.

**څلورویشتمه ماده:**

مقدس اماکن- دولت د مقدسو اماکنو دجوړونی او خدمت لپاره هڅه کوی د تمتع او عمری حج دزایرینو امنیت او حافظت او دآسانتیاو او آرامی لاری تامینوی.

**پنځه ویشتمه ماده:**

نړیواله سوله- دولت دعربی او اسلامی امت هیلو ته دلاس رسی د یووالی او دکلمی دوحدت لپاره او له دوستو هیوادونو سره د اړیکو دپیاوړتیا هڅه کوی.

**شپږویشتمه ماده:**

د بشرحقوق- دولت د اسلامی شریعت پربنسټ د بشر دحقوقو حمایت کوی.

**اوویشتمه ماده:**

رفاهي حقوق- دولت د اتباعو او دهغوی د کورنیو حقوق په اضطراري، ناروغتیا او معلولیت او زړښت په حالاتوکې تضمینوی او د ټولنیز تأمین څخه ملاتړ کوی او هغه موسسات او افراد چې پدی هکله په خیریه چاروکې فعالیت کوی تر هڅونې لاندې نیسی.

**اته ویشتمه ماده:**

کار- دولت، هر هغه فرد ته چې د کار د ترسره کولو وړتیا ولری، شغل برابروی او دکار و څښتن او کار کوونکی د ساتنی لپاره قوانین وضع کوی.

**نهه ویشتمه ماده:**

علم، فرهنګ- حکومت له علم او فرهنګ او ادب ساتنه کوی، دعلمی څیړنو ترویج، او اسلامی او عربی میراث څخه ملاتړ او داسلامی عربی او انسانی تمدن په لاره کې مشارکت کوی.

**دیرشمه ماده:**

تعلیم- دولت، عمومی زده کړې تامینوی او له بیسوادی سره په مجادلې متعهد دی.

**یو دیرشمه ماده:**

روغتیا- حکومت، روغتیائی چاروته پاملرنه کوی او د اتباعو روغتیا تامینوی.

**دوودیرشمه ماده:**

چاپریال او طبیعت- دولت د چاپریال ساتنه، ملاتړ او ښه والی په لاره کې او دککړتیا په مخنیوی کې هڅه کوی.

**دری دیرشمه ماده:**

مسلح قواووی — حکومت د اسلام له مذهب څخه په موخه، حرمین شریفین، ټولنی او اتباعو ددفاع په موخه، مسلح قوتونه تشکیل او مجهز کوی.

**څلوردیرشمه ماده:**

دنظام د خدمت دنده — د اسلام د مذهب، ټولنی او هیواد څخه دفاع د هر وګړی دنده ده. حکومت د نظام د خدمت د دندی مقررات وضع کوی.

**پنځه دیرشمه ماده:**

تابعیت- دسعودی عربستان د تابعیت اړوندمقررات د قانون له لاری ټاکل کیږی.

**شپږدیرشمه ماده:**

نیونه — دولت، دخپلو سرحداتو په حدودکې د ټولو وګړو او استوګن افرادو امنیت ساتی او پرته له هغو مواردو چې قانون ټاکلی هیڅ فرد نیول، توقیف او نه بندی کیږی او په خپلو کړنوکې نه محدودیږی.

**اوودیرشمه ماده:**

د استوګن ځای — کور، واجب الاحترام ځای دی، او هیڅوک پرته دهغه د مالک له اجازی څخه هغه ته د ننوتلو او پلټنی حق نلری، مګر په هغو مواردوکې چې د قوانینوسره سم مشخص شوی وی.

**اته دیرشمه ماده:**

مجازات، هیڅ ډول مجازات نه عملی کیږی مګر دقانون پربنسټ — جزاګانی فردی اړخ لری او ټول جرایم او جزاګانی د شریعت یا قانون سره سم مصوب دی. هیڅ ډول تنبیه او مجازات نه تر سره کیږی، مګر دهغو اعمالو په هکله چې د مصوب قانون د لازم الاجرأ کیدو ترسره شوی وی.

**نهه دیرشمه ماده:**

بیان- د اطلاع رسولو رسنی، انتشاراتی او نوری ټولی رسنی باید کلامی ادب رعایت او حکومتی مقرراتو ته به پام خپله ونډه دملت په ښوونه کې تر سره کړی او دملی وحدت په پیاوړتیا کې هڅه وکړی.

هرهغه عمل چې دفتنی او تفرقی سبب شی او دهیواد امنیت او عمومی اړیکو ته زیان ورسوی او له انسانی ښوونو څخه لیری وی، ممنوع دی، قوانین ټول نوموړی موارد تعیینوی.

**ځلوېښتمه ماده:**

ارتباطات – ارتباطات له هری لاری تلگراف، پست، تیلفون او بلی هر ارتباطی وسیلی، له تعرض څخه مصوون دی.

دا ډول وسایل د توقیف وړ نه دی او نه شوکولی د هغوی لیږد شاته واچوو او یا هغه ولولو او یا هغو ته غوږ کیږدو، مگر په هغو مواردوکی چی قانون مشخص کړی وی.

**یو ځلوېښتمه ماده:**

د مقیمو افرادو دندی- میشت افراد د سعودی عربستان په هیوادکی د هغه د قوانینو تابع دی، د سعودی د ټولنی ارزښتونوته درناوی لری او دهغه دودونو او عواطفو ته به درناوی کوی.

**دوځلوېښتمه ماده:**

پناه اخیستنه، د مجرمینو استراد- په هغه حالت کی چی د عمومی گټو غوښتنه وی، دولت سیاسی پناه غوښتنی سند ورکوی. د مجرمینو په تبعید پوری اړوندی لاری د قوانینو او نړیوالو قراردادونو سره سم ټاکل کیږی.

**دری ځلوېښتمه ماده:**

سلطنتی محاکم- ټول هغه وگړی او کسان چی د بی عدالتی پرضد شکایت یا عرض حال لری، کولی شی چی پاچا او ولیعهد ته ئی ورسوی. هر فرد حق لری په هرهغه چاره کی چی دهغه پر وضع تاثیراچونکی وی، دولتی مقامات مخاطب کړی.

## شپږم فصل
## حکومتی مقامات

**ځلورځلوېښتمه ماده:**

حکومتی مقامات عبارت دی له: قضائی مقام، اجرائی مقام، نظارتی مقام.

دغه مقامات دخپلو دندو د تر سره کولو لپاره د دغه قانون او نورو قوانینو  پر بنسټ له یوبل سره همکاری کوی.

پاچا، د ټولو دغو مقاماتو وروستنی مرجع ده.

**پنځه ځلوېښتمه ماده:**

دسعودی عربستان په پاچائی کی دخدای کتاب دخدای د پیغمبر(ص) سنت د فتوا د صدور منشأ ده. د اعلام د علما و ترکیب، علمی څیړنی، دفتوا صدور او داعلام دعلماو دندی قانون ئی ټاکی.

**شپږځلوېښتمه ماده:**

قضائی، مستقل مقام دی. قاضیان د خپل قضاوت په عملی کولوکی، ترهیڅ نظارت لاندی نه راځی، مگر داسلامی شریعت په هکله.

**اوځلوېښتمه ماده:**

ټولو اتباعو او په پاچائی مملکت کی میشت افراد د حق غوښتنی برابری تضمینیږی په دی هکله مرحلی اولاری ئی د قانون پر اساس ټاکل کیږی.

**اته ځلوېښتمه ماده:**

محکمی، د اسلامی شریعت مقررات د هغو موضوعاتو په هکله چی دوی ته وړاندی کیږی، عملی کوی او دغه کار دکتاب او سنت دمحتوا او همدا راز د محاکم لخوا د صادرشوو احکامو پراساس، پدی شرط چی له کتاب او سنت سره په مغایرت کی نه وی، تر سره کیږی.

**نهه ځلوېښتمه ماده:**

د(۵۳) مادی پر اساس، محاکم په ټولو اختلافاتو او جرمونوکی قضاوت کوی.

**پنځوسمه ماده:**

پاچا او یا هر هغه کس چی د هغه استازی وی د قضائی احکامو د اجرأ مسوول دی.

**یو پنځوسمه ماده:**

مقامات، دعدالت د عالی شورا جوړښت او دهغوی ځانګړی حقوق ټاکی او دمحاکمو ارجحیت ( دتقدم حق ) او دهغوی ځانګړی حقوق مشخصوی.

**دو پنځوسمه ماده:**

دقضاتو تعیین او دهغوی د خدمت پای د سلطنتی فرمان او دعدالت دعالی شورا د وړاندیز سره سم د قانون دمفادو له مخی ترسره کیږی.

**دری پنځوسمه ماده:**

دشکایاتو د دیوان ارجحیت او دهغه ځانګړی حقوق د قانون لخوا ټاکل کیږی.

**څلورپنځوسمه ماده:**

د رسیدګی دهیئت او لوی څارنوال اړیکی او تشکیلاتی او دهغوی ځانګړی حقوق او امتیازات د قانون لخوا ټاکل کیږی.

**پنځه پنځوسمه ماده:**

پاچا د امت کړنلاره ( خط مشی ) چی مشروع کړنلاره او داسلام د مقرراتو سره سم وی، عملی مرحلی ته راولی او داسلامی شریعت حکومتی نظام، د دولت عمومی سیاست پر اجرأ او دهیواد پر ساتنی او دفاع نظارت کوی.

**شپږپنځو سمه ماده:**

پاچا د وزیرانو د شورا ریاست په غاړه لری. د دغه قانون او نورو قوانینو پراساس، و زیرانود شورا غړی، له پاچا سره دهغه د دندو په سرته رسولوکی مرسته کوی. د وزیرانو شورا، د دغه شورا حقوق او امتیازات د کورنیو او بهرنیو مسایلو په اړوند او همدارنګه دینی سازمان ورکولو او دولتی برخو تر منځ همغږی ټاکی. همدارنګه دغه شورا هغه مقرارت چی وزیران ئی باید تر سره کړی او همداشان دهغوی ځانګړی حقوق او امتیازات، د هغوی څخه دګتی اخیستنی لاری چاری او ټول اړوند مسایل ټاکی. د وزیرانو دشورا د اړوند قانون اصلاح او د هغوی ځانګړی حقوق د دغه قانون پراساس اصلاح کیږی.

**اووپنځوسمه ماده:**

الف- د صدراعظم مرستیالان، وزیران د وزیرانو شوراغړی د سلطنتی فرمان سره سم د پاچا لخوا نصب او عزلیږی .

ب- د صدراعظم مرستیالان، وزیران، د وزیرانو دشورا غړی د پاچا په وړاندی د پیوستون په اعلان، داسلامی شریعت او دحکومت دعمومی سیاست د اجرأ مسوول دی.

ج- پاچا حق لری دوزیرانو شورا منحل کړی، او هغه بیرته له سره جوړه کړی.

**اته پنځوسمه ماده:**

هغه کسان چی د وزیرپه کچه دی، د وزیر مرستیالاو لوړپوړی مقامات د سلطنتی فرمان له لاری د پاچا لخوا د دغه قانون د توضیحاتو سره سم نصب او عزلیږی. وزیران، دمستقلو برخو ریسان هغه وزارتونو او برخوته چی دهغوی تر نظارت لاندی دی، د صدراعظم په وړاندی مسوولیت لری.

**نهه پنځوسمه ماده:**

قانون د ملکی استخدام له هغی جملی معاش، مزد، تاوان، نقدی جوایز او دتقاعد حقوق مقررات ټاکی.

**شپیتمه ماده:**

پاچا، دمسلحو قواو اعلی قوماندان دی. هغه د قانون پراساس افسران ټاکی او هغوی له خپلو مناصبو څخه عزلوی.

**یوشپیتمه ماده:**

ددغو مواردو په هکله مقررات د قانون سره سم ټاکل کیږی.

**دوشپیتمه ماده:**

که چیری کوم ګواښ پاچائی امنیت یا ځمکنی بشپړتیا یاد خلکو امنیت او دهغوی ګټی په خطرکی واچوی یا د حکومتی بنسټونو د کړنو مانع شی، پاچا د دغه خطر دمقابلی لپاره بیړنی اقدامات تر سره کوی. که چیری پاچا تشخیص کړی چی دغه اقدامات باید ادامه ومومی، هغه وخت لازم مقررات په دغه هکله عملی کوی.

**دری شپیتمه ماده:**

پاچا، دنورو دولتونو پاچایان او مشران خپل حضور ته منی. خپل استازی په نورو هیوادونوکی ټاکی او دهیوادونو د استازو باور لیکونه چی هغه ته وړاندی کیږی، منی.

**ځلورشپیتمه ماده:**

پاچا د مقرراتو په اساس، مډال ورکوی.

**پنځه شپیتمه ماده:**

پاچا کولی شی په سلطنتی فرمان سره، ولیعهد ته ځانګړی امتیازات پریږدی.

**شپږشپیتمه ماده:**

پاچا له هیواد څخه بهرته د سفر په صورت کی، دیوه سلطنتی فرمان په ترڅ کی، دخلکو د ګټو د ساتلو لپاره چی په هغه فرمان کی راغلی وی د هیواد چاری ولیعهد ته سپاری.

**اووشپیتمه ماده:**

نظارتی مقام داسلامی شریعت پراساس د هیواد د ګټو تأمین او نا مطلوبو مواردو دلیری کیدو لپاره مقررات او وړاندیزونه، تقدیموی. دغه مقام، خپلی دندی د دغه قانون او د وزیرانو په شورا او مشورتی شورا پوری اړوند قانون پراساس تر سره کوی.

**اته شپیتمه ماده:**

مشورتی شورای — مشورتی شورای تشکیل ته ضرورت لری. د تشکیل، داختیاراتو دعملی کیدو او غړو دانتخاب دبڼی څرنګوالی د اړونده لایحی له مخی ټاکل کیږی.

**نهه شپیتمه ماده:**

پاچا حق لری مشورتی شورا او د وزیرانو شورا دګډی غونډی د جوړویدولپاره وبلی. هغه حق لری هر هغه دنظر وړ کس دهری هغی موضوع په هکله په غونډه کی د ګډون لپاره وبلی.

**اویمه ماده:**

تړو نونه، قراردادونه، نړیوال مقررات او امتیازات د پاچائی فرمان سره تصویب او اصلاح کیږی.

**یو اویایمه ماده:**

قوانین په رسمی نشریه کی خپریږی او د خپریدو له نیټی د اجرأ وړ دی. مګر داچی بله نیټه ټاکل شوی وی.

## اووم فصل
## مالی چاری

**دو اویایمه ماده:**

الف- د دولت د عوایدو پوری اړوند مقررات اوپه عمومی بودجی کی د هغه دثبت، دقانون په اساس مشخصیږی.

ب- دقانون مطرح مقرراتو پر اساس عواید ثبت او مصرفیږی.

**دری اویایمه ماده:**

له عمومی بودجی څخه د پیسو په هکله هرډول تعهد باید د بودجی د مقرراتو سره سم تر سره شی. که چیری دغه عمل د بودجی د مقرراتو له لاری امکان ونلری، باید د سلطنتی فرمان پراساس تر سره شی.

**څلوراویایمه ماده:**

د دولتی شتمنیو خرڅول ، اجاره یا ګټه اخیستنه مجاز نه دی، مګر د قانون پراساس.

**پنځه اویایمه ماده:**

پولی او بانکی، استندردنو، وزنونو او اندازو پوری اړوند مقررات د قوانینو په اساس ټاکل کیږی.

**شپږاویمه ماده:**

د دولت مالی کال د قانون له مخی مشخصیږی او بودجه د سلطنتی فرمان له لاری اعلانیږی. دهماغه کال عوایداو مصارف لږ ترلږه دمالی کال دپیل څخه لږ ترلږه یوه میاشت وړاندی د قانون په اساس څیړل کیږی او که چیری بودجه د ډیرو مهمو دلایلو له امله اعلان نه شی اونوی مالی شروع نشی، د تیرکال بودجه په خپل قوت سره پاتی کیږی، ترهغه وخته چی نوی بودجه اعلان شی.

**اوواویایمه ماده:**

یو صالح او خبر هیأت، د دولت وروستنی صورت حساب تنظیموی او هغه د وزیرانو د شورای رئیس ته وړاندی کوی.

**اته اویایمه ماده:**

دحقوقی اشخاصو بودجه او دهغوی وروستنی صورت حسابونه او دولتی بودجه او وروستنی صورت حسابونه د ورته مقرراتو مشمول دی.

## اتم فصل
## د نظارت هیأتونه

**نهمه اویایمه ماده:**

د دولت ټول عواید او مصارف ترڅانوی نظارت لاندی راځی او ټولی منقول او غیر منقولی شتمنی هم د مطلوبی ګټی او دهغوی د ساتنی په موخه تر نظارت او کنترول لاندی راځی. پدی هکله کلنی رپوټ د وزیرانو شورای رئیس ته وړاندی کیږی. قانون، صالحه هیأت د هغوی د نظارت، د حقوقو او ژمنو لپاره ټاکی.

**اتیایمه ماده:**

حکومتی برخی په مدیریت کی حسن اجرأ او دقوانینو د اجرأ د تائید په منظور تر نظارت لاندی راځی. دمالی او اداری تخلفاتو د څیړنی او پدی هکله کالنی رپوټ د وزیرانو شورای رئیس ته وړاندی کیږی. قانون ، دپورتنی امر ترسره کولو او حقوقو او تعهداتو اړوند مسوول صالحه هیأت معینوی .

## نهم فصل
## کلی مقررات

**یواتیایمه ماده:**

د دغه قانون اجرأ، هغو معاهداتو او مؤافقتنامو چی د سعودی عربستان پاچائی چی له هیتونو او نړیوالو سازمانونو سره ئی لاسلیک کړی، خلل نه واردوی.

**دوواتیایمه ماده:**

داوومی مادی دعدم تخلف په صورت کی ددغه قانون، هیڅ یو مقررات د تعلیق په حالت کی نه راځی مګر په مؤقت ډول د مثال په توګه دجګړی په موده یا د اضطراری وضعیت له اعلان سره. دغه مؤ قت تعلیق دقانون د شرایطو سره سم وی.

**دری اتیایمه ماده:**

دغه قانون یوازی په هغه ترتیب چی رسمأ خپورشوی داصلاح وړ دی.